مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند
۲۰۱۸/۰۶/۱۰

# استاد یار محمد علیزی
# او
# د فاروق شاه یو سوی غزل

تا چي زما په سر رقیب سره خندا ویشله
ما مي د زړه په قلمرو کي هم ژړا ویشله

اوس یي که وایم که نه وایم، ټول عالم یي وایي
هر چا د دي وطن پر سر باندي بلا ویشله



د افغانستان د رادیو، تلویزیون وتلی او منلی سندرغاړی یار محمد هم د نورو فرهنګیانو په څیر د لارورکو لارویانو په قدمونو، قدم کیښود، په ورکو لارو سرشو او د یو نامالوم آدرس په تمه ماسکو ته را رسیدلی و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

یارمحمد په افغانستان کې د ځانګړي سبک او نامه خاوند سندرغاړی دی. یارمحمد د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي انګلیسي څانګه پای ته رسولې ده او موسیقي یې په مسلکي ډول له هندي استاد، ډاکتر وسنتر اودیش پانډې څخه، چې په رسمي ماموریت کابل ته راغلی و، زده کړې ده.
له کابل نه په وتلو سره د ده غږ ټپ نه شو، په پېښور کې هم لکه بلبل د خپلو خلکو او وطن په یاد وچغید، ونلید او بیا ماسکو ته ورسید.
یارمحمد ماسکو ته په رسیدو سره له داسي یو ګونګي چاپیریال سره مخامخ شو، لکه هدیره. نه کومه سندره، نه کوم سازي، نه کوم سندرمار، نه کوم اوریدونکی او نه کوم...
تر څو چي د ۱۹۹۵م کال د مارچ په شلمه د نوي هجري شمسي کال د را رسیدو په ویاړ، د څو تنو فرهنګیانو (غلام حسن شور، نظیف الله تکل، عبدالبصیر او آصف بهاند) په نوښت او کوربه توب، د نوی کال د لمانځلو د محفل پریکړه وشوه او په دې محفل کي د یار محمد د ګډون مسأله په جدي ډول طرحه او په محفل کې د ګډون بلنه ورکړل شوه.
استاد یار محمد دا بلنه په ورین تندي ومنله او په یاد محفل کي یې د ګډون له پاره پوره تیاری ونوده.
ټاکلې ورځ راورسیده او د محفل کوربانه په دې هم بریالي شول چي په دې پلمه څو تنه فرهنګیان هم را وبلي او د محفل په ترڅ کي یوه مشاعره ګۍ هم جوړه کړي.
دا محفل په خورا بریالیتوب تر سره شو او وروسته له هغه نه استاد یارمحمد ورو، ورو خپل هنري پروګرانونه پسي وغځول.
داسي هم وشول چي کله، کله به استاد یار محمد په ځینو محافلو کي د ناستو شاعرانو شعرونه هم زمزمه کول. د همدې پروګرامونو په ترڅ کي یې یوه شپه له باجي نه یو عجیب غږ وایسته او په لوړ غږ یې وویل:
اوس به زه یو داسي شعر تاسو ته د موسیقي په څپو کي واوروم چي تر اوسه مو نه دی اوریدلی او هیڅ سندرغاړي زمزمه کړی نه دی او داسي یې پیل وکړ:

**تا چي زما په سر رقیب سره خندا ویشله**
**ما مي د زړه په قلمرو کي هم ژړا ویشله**

د دې سندري شعر د ګران شاعر فاروق شاه شعر و. زما په شخصي ویدیویي آرشیف کي یې د یارجان په خواږه غږ ویل شوې ښکلي کاپي موجوده ده.

ما په خپلې یوې سفرنامي (لارورکي لارویان) کي یوازې دا دوه بیتونه ثبت کړي دي:

**تا چي زما په سر رقیب سره خندا ویشله**
**ما مي د زړه په قلمرو کي هم ژړا ویشله**

**اوس یي که وایم که نه وایم، ټول عالم یي وایي**
**هر چا د دې وطن پر سر باندې بلا ویشله**

خو د دې مقالي د لیکلو په وخت کي را یاد شول چي ښایي له استاد یار محمد سره د شعر بشپړ متن موجود وي. کله مي چي د مرستي غږ ورباندي وکړ، هغوی په خپلې فرهنګي مینې سره د شعر بشپړ متن ما ته راولیږه چي دلته یې له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

**تا چي زما په سر رقیب سره خندا ویشله**
**ما مي د زړه په قلمرو کي هم ژړا ویشله**

**اوس یي که وایم که نه وایم، ټول عالم یي وایي**
**هر چا د دې وطن بلا په سر بلا ویشله**

**منم د تورو سترګو تور خو به دې واخلم آخر**
**چي دې د سپینو خولګۍ ویش ؤ تا په چا ویشله**

**ما جنازه په توره شپه کي هدیرې ته یوړه**
**ته مي د سخات پیسي ته ناسته وې چي ما ویشله**

**په خرو سترګو اعتراف او په دا سپینو انکار**
**تا په یوه لحظه کي دا او هم همدا ویشله**

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ